# د کمونیزم اصول



فریدریش انګلس



ژبا[illegible] ف[illegible]هاد [illegible]ار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کمونیزم اصول**

لیکوال: فریدریش انګلس
ژباړن: فرهاد ویاړ
ایډیټر: سرمد
خپرندویه: سیند خپرندویه
وبلاګ: www.ketabtoon.blogfa.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکمونیزم اصول
# فریدریش انګلس
# د کمونیستی اعتقاداتو طرحه کول

**لومړۍ پوښتنه: کمونیزم څه ته وايي؟**
**ځواب:** کمونیزم د پرولتاریا طبقې د خلاصون لپاره د شرایطو د برابرولو علم ګڼل کیږي. (۱)

**دویمه پوښتنه: پرولتاریا څه ته وايي؟**
**ځواب:** پرولتاریا په ټولنه کې هغې طبقې ته ویل کیږي چې د ژوندانه لګښتونه د خپل "کاري ځواک" له پلورنې څخه لاس ته راوړي، نه د کومې پانګې له ګټې څخه، یعنې د دې طبقې خوښې او درد، ژوند او مرګ او آن د دې طبقی د ټولو غړو ژوند، د کار، د معاملو د غوړیدلو او غونځتیا او د پانګه اچونکو د بې لګامه سیالۍ له نوساناتو سره تړاو لري.(۲)
لنډه دا چې پرولتاریا (د پرولتاریا طبقه) د نن ورځې هماغه زیارکښه طبقه ده.

**دریمه پوښتنه: نو په دې باور یاست چې د پرولتاریا طبقه موجوده نه وه؟**
**ځواب:** نه. زیارکښې او نیستمنې طبقې تل موجودې او آن زیارکښې طبقې همیشه تر ټولو نیستمنې پاتی شوي خو داسې نیستمن او دا ډول کارګران چې ژوند یې له پورتنیو څرګندونو (پرولتاریا) سره سم وي، څرنګه چې د سیالۍ آزادي او بې لګامي کمه وه، موجود نه وو.

**څلورمه پوښتنه: پرولتاریا څرنګه منځ ته راغلې ده؟**
**ځواب:** پرولتاریا د صنعتي انقلاب په پایله کې چې د اتلسمې پیړۍ په دویمې نیمایي کې په انګلستان کې تر سره شو او وروسته د نړۍ په نورو متمدنو هیوادونو کې تکرار شو، رامنځ ته شوه. دا لوی صنعتي انقلاب د بخار او د اوبدنې د بیلابیلو ماشینونو، میکانیکی کارځایونو او د نورو ماشینونو د اختراع له امله رامنځته شو. دغه ماشینونه چې ډیر قیمتي وو او یوازې پانګوالو پیرلی شول، د هغه وخت د تولید بڼه بیخي بدله کړه او کارګران یې د بیوزلۍ لور ته وکاږل، ځکه دغه ماشینونو کولاۍ شول د کارګرانو د تولید په پرتله ارزانه او ښه محصول چمتو کړي، په داسې حال کې چې کارګرانو د خپلو د اوبدنې نیمګړو ماشینونو سره ښه او ارزانه تولید نشو کولای. په دې توګه، دې ماشینونو، د صنعت چارې لویو پانګوالو ته سپارلې او د کارګرانو کوچنۍ پانګه ( افزار ـ د نساجي کارګاه او نور) یې بیخي بې ارزښته کول، داسې چې پانګوالو له کمې مودې وروسته، ټول شیان په خپل لاس کې نیول او کارګرانو ته هیڅ څه نه پاتی کیدل. په دې توګه د جامو د ټوکر د برابرولو په منظور د کارخانې سیستم رامنځته شو. وروسته له دې چې د ماشینونو کارول او د کارخانی سیستم پلې شو، ډیر ژر دې سیستم د صنعت په نورو برخو؛ لکه چاپ، کوزه ګرۍ، فلزکارۍ او په نورو صنایعو کې هم دود وموند؛ کار نور هم د کارګرانو تر منځ ویشل کیده، په دې ډول چې یو تن کارګر چې پخوا یې یو کار په یوازې توګه کاوه، نور یې د کار یوازې یوه برخه کوله. د کار ویش دا شونتیا برابره کړه چې محصولات په چټکی او په ارزانه توګه تولید شي.
د کار ویش لامل شو چې د هر کارګر فعالیت یو ساده مکانیکي کار ته، چې کومه تنوع یې نلرله او په دایمي توګه تکراریده او له لاسي کار څخه ډیر ښه و، محدود پاتی شي.
په دې ډول، ټولې صنعتي برخې لکه د اوبدنې صنعت، یو په بل پسې د بخار قویې، د ماشینونو او د کارخانې د سیستم تر واکمنۍ لاندې راغلل. په ورته وخت کې دا ټولې کارخانې په ټولیزه توګه د لویو پانګوالو لاس ته ولویدې چې په نتیجه کې یې د کارګرانو د خپلواکۍ وروستۍ برخه هم ورڅخه سلب کیده.
د مانوفکتور تر څنګ، ورو ورو کسبونه هم د کارخانیز سیستم په اډانه کې ځای په ځای شول. په دې ډول، چې په دې برخه کې هم لویو پانګوالو د سترو کارخانو په جوړولو سره، البته چې د ډیرو لګښتونو مخه نیسی او د کار ویش په هغه کې په ښه ډول تر سره کیږي، د کسبګرۍ استادان یې تر سخت فشار لاندې ونیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایله دا چې، په ټولو متمدنو هیوادونو کې نژدې د کار ټولې برخې د کارخانې په سیستم اداره کیږي او د کار په ټولو څانګو کې لاسي صنایع او کسبګري تر فشار لاندې نیول کیږي او په دې وسیله منځنۍ طبقه او په ځانګړې توګه کوچني کسبګر، چې تر دې وخته پورې موجود و، ورځ تر بلې د دیوالي کیدو لورې ته ځي. د کارګرانو پخوانی وضعیت بیخي بدلون مومي او دوه نوې طبقې، چې ورو ورو به نورې ټولې طبقې له منځه یوسي، راپیدا شوي دي.

دغه دوه طبقې دا دي:

۱. د سترو پانګوالو طبقه چې دا وخت په ټولو متمدنو هیوادونو کې له استثنا پرته د ټولو حیاتي وسایلو او د دې حیاتي وسایلو(کارخانو او ماشینونو) د تولید د ټولو اړینو افزارو څښتن ګڼل کیږي. دغه طبقه هماغه بورژوا یا د بورژوازۍ طبقه ده.

۲. د هغو کسانو طبقه، چې هیڅ څه نلري او مجبوره دي د ژوند د اړتیاو د پوره کولو او د ژوندانه لپاره خپل کاري ځواک بورژوا طبقې ته وپلوري. دا هماغه د پرولتاریا طبقه یا پرولتاریا ده.

**پنځمه پوښتنه: پرولتاریا د کومو شرایطو لاندې خپل کاري ځواک بورژوا طبقې ته پلوري؟**

**ځواب:** کاري ځواک د نورو شیانو په څیر کالي شمیرل کیږي، له همدې امله بیه یې د هغه قوانینو له مخې ټاکل کیږي چې د نورو توکو لپاره کارول کیږي. د توکو بیه د سترو صنایعو یا د آزادې سیالۍ په واکمنۍ کې ـ څرنګه چې به وروسته وګورو ـ یو مفهوم لري؛ په منځني توګه تل د توکو د تولید له لګښت سره مساوي وي. د کاري ځواک بیه هم د کار د تولید له مصرف سره مساوي ده. د کاري ځواک د تولید لګښت د ژوندانه له هغې حداقل وسایلو سره مساوي وي چې د کارګرانو د کار کولو د وړتیا لپاره بس وي او د کارګرې طبقې د نابودۍ مخه ونیسي. کارګر د خپل کاري ځواک په مقابل کې په هیڅ توګه له هغې کچې، چې د پورتنې موخې ـ یعنی د کار د وړتیا ساتلو ـ لپاره بسنه کوي، ډیر څه لاس ته نه راوړي. له همدې کبله د کاري ځواک بیه (مزد) د ژوندانه له حداقل وسایلو سره چې د ژوند لپاره اړین بریښي، مساوي وي.

له هغه ځایه چې د معاملو فصلونه کله ښه او کله بد وي، کارګر هم کله کم او کله زیات مزد لاسته راوړي، خو څرنګه چې د کارخانې مالك په ښه او بدو فصلونو کې هغه څه چې په منځني ډول له خپلو توکو څخه لاسته راوړي، د هغې د تولید له لګښت څخه نه کم او نه هم زیات وي، کارګر هم په منځني توګه له دې حداقل څخه ډیر او لږ لاسته نه راوړي. په هره کچه چې د کار بیلابیلې برخې د سترو صنایعو تر واکمنۍ لاندې راځي، په هماغه کچه د مزد دا اقتصادي قانون نور هم په کلکه اجرا کیږي.

**شپږمه پوښتنه: له صنعتي انقلاب مخکې کومې کارګري طبقې موجودې وې؟**

**ځواب:** کارګري طبقو د ټولنې د پرمختګ له کچې سره په بیلابیلو شرایطو او د واکمنې طبقې د نوعیت له مخې په بیلابیلو حالاتو کې ژوند کاوه. په تیرو زمانو کې کارګران د املاکو خاوندانو د بردګانو (مریانو) په څیر وو. څرنګه چې نن (۱۸۴۷) هم دا وضعیت په ډیرو وروسته پاتو او آن د متحده ایالاتونو په سویلي برخو کې ادامه لري.(۳)

په منځنیو پیړیو کې کارګران د ځمکو د مالکانو او د خانانو ملکیت ګڼل کیدل. څرنګه چې دا وضعیت نن هم په هنګري، لهستان او روسیه (۴) کې تر سترګو کیږي. سربیره پر دې په منځنیو پیړیو او د صنعتي انقلاب تر پیل پورې په ښارونو کې کسبګر کارګران موجود وو، چې د کوچنۍ بورژوازۍ لپاره به یې کار کاوه. د لاسي صنعت له رامنځته کیدو او پراختیا سره د لاسي صنایعو کارګران رامنځته شول چې د لویو پانګوالو لخوا په کار ګومارل کیدل.

**اوومه پوښتنه: پرولتاریا له بردګانو سره څه توپیر لري؟**

**ځواب:** یو برده د یو ځل او د تل لپاره پلورل کیږي خو یو پرولتر مجبور دی چې هره ورځ او هره ګړۍ ځان وپلوري.

یو برده چې د ارباب ملکیت شمیرل کیږي، که چیرې ارباب یې لازم وګڼي، ژوند یې ـ که هر څومره له بدمرغی سره مل وي، تأمین شوی دی. خو یو پرولتر چې د ټولې بورژوا طبقې ملکیت ګڼلی شو او یوازې هغه وخت کولای شي خپل کار وپلوري چې څوك ورته اړتیا ولري، په هیڅ توګه تأمین شوی ژوند نلري خو دغه د ژوند تامین د کارګرې طبقې لپاره یوازې په ټولیزه توګه موجود دی. برده د سوداګریزې سیالۍ له بهیر څخه بهر دی، په داسې حال کې چې یو پرولتر د دې سیالۍ په منځ کې دی او د دې سیالۍ ټول نوسانات احساسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برده کالي شمیرل کیږي؛ نه د بورژوازۍ ټولنې یو غړی. حال دا چې یو پرولتر د بورژوازۍ ټولنې یو غړی او فرد پیژندل کیږي. له همدې امله یو برده د پرولتر په پرتله ښه ژوند لري، خو په ورته وخت کې پرولتر له یوې پرمختللې ټولنې سره تړاو لري او له همدې کبله په ټولنه کې د بردګانو په پرتله لوړ ځای لري.

یو برده که وکړای شي د مالکیت له ټولو اړیکو څخه یوازې د بردګۍ رابطه له منځه یوسي، آزادي لاس ته راوړي، په داسې حال کې چې د یوه پرولتر آزادي هغه مهال شونې ده چې د خصوصي مالکیت ټول ډولونه په بنسټیزه توګه له منځه ولاړ شي.

**اتمه پوښتنه: د سرف او پرولتر تر منځ څه توپیر دی؟** (۵)

**ځواب:** سرف، ارباب ته د محصول د یوې برخې په سپارلو او یا ارباب ته د یوه کار په کولو سره، د «تولیدی وسیلې» یعنی د یوې ټوټې ځمکې د تصرف او کارولو حق تر لاسه کاوه. خو یو پرولتر د بل چا په تولیدي وسایلو کار کوي چې د همدې کس دي او د خپل کار په مقابل کې د ګټې یوه برخه لاسته راوړي. سرف د خپل کار د محصول یوه برخه نورو ته ورکوي، په داسې حال کې چې پرولتر یوازې د خپل کار د محصول یوه برخه اخلي. سرف تأمین شوی ژوند لري، حال دا چې پرولتر تأمین شوی ژوند نلري. سرف له سوداګریزې سیالۍ څخه څنډې ته دی، په داسې حال کې چې پرولتر د دې سیالۍ په منځ کې دی.

سرف په څو طریقو آزادیدلی شي: یو دا چې ښارونو ته وتښتي او بیلابیل کسبونه پیل کړي؛ بل دا چا مالک ته د یوې برخې محصول د سپارلو پر ځای پیسې ورکړي او د آزادو رعایاو په ډله کې شامل شي او همدا ډول کولای شي له ارباب او فیوډال څخه د خپلې ځمکې اختیار واخلي او په خپله د ځمکی څښتن شي. په لنډه توګه، سرف هر کله چې د دې بیلابیلو لارو له یوه طریقه د شتمنې طبقې غړی او په سوداګریز بهیر کې ورګډ شي خپله آزادي لاسته راوړي، په داسې حال کې چې د پرولتر آزادي د خصوصی مالکیت، سیالی او د ټولو طبقاتي اختلافاتو له منځه تللو سره شونتیا مومي.

**نهمه پوښتنه: د کسبګر او پرولتر تر منځ څه توپیر دی؟** (۶)

**ځواب:** د کسبګر، یعنې د کسبګر کارګر او د نوي پرولتر تر منځ توپیر یوازې د هغوې د کار په ظاهري اړیکو کې نه دی. کسبګر کارګر او د کارخانې کارګر دواړه خپل کاري ځواک د تولیدي وسایلو پر مالك پلوري، دواړو ته مزد ورکول کیږي، خو کسبګر کارګر ته دا مزد د جنسي مزد (ډوډۍ او د استادکار سره اوسیدنې) په بڼه ورکول کیږي. خو په تیرو ښو وختونو کې د کسبګرۍ شاګرد، د شاګردۍ موده د استادۍ مقام ته د رسیدو د چمتووالي دوره ګڼله او هیله یې درلوده چې د کسبګر استاد په توګه به په یوه ثابت ځای کې هستوګن شي او شاید په راتلونکې کې په خپله هم شاګردان ولري. له همدې امله یې هڅه کوله خپل فعالیت، چې هغه وخت د لاسي کار په مهارت ولاړ و، بشپړ کړي او یو ناڅیزه مبلغ چې د یوې مستقلې کارخانې لپاره لازمي ګڼل کیده، سپما کړي او که وخت ورسره یاري کړی وای د کسبګر استاد له لور او یا کونډې سره یې واده کاوه او د شاګردۍ د کلونو د تیریدو او د «استاد کاري» له چمتووالي وروسته، د کسبګرۍ یو ښاغلی استاد جوړیدو او څه چې یې د خپلې شاګردۍ پر مهال زغملي وو، له خپلو شاګردانو سره یې ورته چلند کاوه.

تر هغه وخته چې د استادۍ مقام ته د شاګردۍ له مقام څخه د لوړیدو شونتیا وه؛ د استاد او شاګرد تر منځ، چې دواړو پر یوه ځانګړي شي کار کاوه او پر یوه میز یې ډوډۍ خوړله، طبقاتي تضاد رامنځته کیدلای نشو. د شاګرد او استاد تر منځ د پلار او زوي کومه اړیکه چې موجوده وه، استادانو ته یې له استادۍ واك سربیره یو ثانوي واك ورکاوه چې له امله یې د خپلو شاګرانو ټول ژوند تر مستقیمې اغیزې لاندی راوستو.

له بلې خوا دا اړیکې د هغو شاګردانو لپاره چې له یوه استاد سره یې کار کاوه، د هغې بند په څیر وې، چې هغوې یې د نورو استادانو له شاګردانو سره نژدې کول او دا ډلګی یې سره جلا کولې. له هغه ځایه چې د کسبګرۍ شاګردانو لیوالتیا درلوده چې استادان شي، شته مقرراتو ته تسلیم وو. له بلې خوا لازمي وه چې کسبګر ښه جنس بازار ته عرضه کړي، د شاګردانو بدلول هومره آسان کار نه و او شاګرد کولای شول چې د استاد په وړاندې د خپل وجود څرګندونه وکړي. له همدې امله د شاګردانو ، چې شمیر یې په لومړیو کې په هیڅ ډول له استادانو زیات نه و، ټولنیز وضعیت یې د نننۍ کارخانو د کارګرانو په پرتله ډیر ښه و.

**لسمه پوښتنه: د پرولتر او د لاسي صنایع کارګر تر منځ څه توپیر دی؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځواب:** له شپاړلسمې پیړۍ څخه تر اتلسمې پیړۍ پورې د لاسي صنایع کارګر په ټولیزه توګه په هر ځای کې د تولید د یوې وسیلې مالك و، لکه د اوبدلو کارځای، د یوې کورنۍ لپاره د تار اوبدنې ماشین او یوه ټوټه ځمکه چې د وزګارتیا په وخت کې د کارګر لخوا کرل کیده؛ په داسې حال کې چې یو پرولتر له دې شیانو څخه یو هم نلري. د لاسي صنایع کارګر اکثراً په کلیو کې ژوند کاوه او د خپل ارباب یا مالك سره یې لکه د پلار او زوي اړیکه درلوده؛ په داسې حال کې چې یو پرولتر په ټولیزه توګه په لویو ښارونو کې ژوند کوي او له خپل مالك سره یوازې د پیسو اړیکه لري. د لاسي صنایع کارګر د لوی صنعت په وسیله د پلار او زوي له اړیکې څخه خلاصیږي، خپل ټول مالکیت له لاسه ورکوي او په یوه پرولتر بدلیږي.

**یوولسمه پوښتنه: د صنعتي انقلاب او په بورژوا او پرولتر باندې د ټولنې د ویش لومړنۍ پایلې څه وې؟**

**ځواب:** اول دا چې صنعتي توکي د ماشین د کار په وسیله په دایمي توګه ارزانه کیدل او د نړۍ په ټولو هیوادونو کې لاسي صنایع یا هغه صنایع چې بنسټ یې پر لاسي کار ولاړ و، په بشپړه توګه ویجاړه شوه. ټول نیمه وحشي هیوادونه چې له تاریخي پرمختګ څخه لیرې پاتې شوي وو او د صنعت بنسټ یې لا پر لاسي کار ولاړ و، د همدې مسئلې له امله د انزوا له ګوټ څخه راوویستل شول. دې هیوادونو د انګلیسانو ارزانه توکي پیرل او خپل لاسي صنعت یې د نابودۍ خوا ته یووړ؛ په دې ډول د هندوستان په څیر هیوادونه چې د څو زرو کلونو په ترځ کې یې هیڅ ډول پرمختګ کړی نه و، په ډیره لږه موده کې بیخي بدل شول او آن چین نن د صنعتي انقلاب خوا ته درومي. دا لړۍ دې ته ورسیده چې کوم ماشینونه چې نن په انګلستان کې اختراع کیږي، د یو کال په ترځ کې ملیونونه چینایان له ډوډۍ خوړلو بې برخې کوي. په دې ډول لوی صنعت د نړۍ ټول ملتونه سره نښلوي؛ ټول کوچنی سیمه ایزه بازارونه په نړیوالو بازارونو اړوي او په ټولو ځایونو کې د پرمختګ او تمدن زمینه برابروي او کار یې دومره مخې ته وړی دی، هر څه چې په متمدنو هیوادونو کې تر سره شي، پر نورو ټولو هیوادونو اغیزه کوي. که چیرې اوس(۱۸۴۷) په انګلستان یا فرانسه کې کارګران آزادي لاسته راوړي، دا کار به په نورو هیوادونو کې انقلابونه رامنځته کړي چې ډیر ژر یا له ځنډ سره به په نورو هیوادونو کې د کارګرانو د خلاصون لامل شي.

دویم دا چې، په هر ځای کې چې لویو صنایعو د لاسي صنعت ځای ونیو، صنعتي انقلاب لامل شو چې د بورژوازي شتمني او ځواك په بې ساري ډول پراختیا ومومي او بورژوازي د هر هیواد لومړۍ طبقه شي. پایله یې دا وه چې په هر ځای کې د دې بهیر په رامنځته کیدو سره، بورژوازي سیاسي واك په لاس کې واخیست، اشرافي طبقې او اصناف او همدا ډول یې د مطلقه سلطنت رژیم یې چې د دې دوو طبقو نماینده و، د نابودۍ خوا ته ولیږدول.

بورژوازي د سلطنتي کورنۍ او د اشرافو ځواك، د عالي طبقاتو د ټولو امتیازاتو په لغو کولو او د کرنیزه ځمکو د پلورلو په مخنیوي سره له منځه یووړ. بورژوازي د صنفونو د ټولو امتیازاتو په له منځه وړلو د صنفونو د استادانو ځواك له منځه یووړ او د دې دواړو پر ځای یې آزاده سیالي رامنځته کړه، یعنې داسې یو وضعیت یې په ټولنه کې جوړ کړ چې په هغه کې هر څوك په خپله خوښه د هرې صنعتي برخې د ټاکلو حق ولري او له اړینې پانګې پرته، چې نشتوالې یې د کار کولو مانع ده، بل هیڅ څه ونشي کړای د چا د رشتې د خوښولو مخه ونیسي. له دې امله، د آزادې سیالۍ د سیستم د پراختیا پیلیدل، د دې موضوع د رسمي څرګندولو په معنی ده چې په یوې ټولنې کې له دې وروسته د ټولنې د غړو نه تساوي والی د هغوی د پانګې له نه تساوي والي سره تړلی دی او له دې سربیره، پانګه یو واقعي او اغیزناکه ځواك دی او ځکه پانګه لرونکي، یعني بورژوا، د ټولنې لومړۍ طبقه ده. د لویې صنایع د لومړیو پړاونو لپاره د آزادې سیالۍ سیستم لازم بریښي، ځکه دا یوازینی ټولنیز وضعیت دی چې لوی صنعت د هغې تر سیوري لاندې کولای شي، رامنځته شي او پرمختګ وکړي. بورژوازي د اشرافو او اصنافو د طبقې په له منځه وړلو سره د هغوی سیاسي ځواك هم له منځه یووړ.

همدا چې بورژوازي په ټولنه کې د لومړۍ طبقې ځای ونیو، په سیاست کې یې هم د ځان لپاره لومړی مقام اعلان کړ. بورژوازي دا کار د استازیتوب سیستم په دودولو تر سره کړ، چې بنسټ یې د قوانینو په وړاندې د مساوات او د آزادې سیالۍ د قانوني کیدو پر اصل ولاړ دی. دا سیستم په اروپایي هیوادونو کې د مشروطه سلطنت بڼه لري. د مشروطه سلطنت په دې ډول سیستم کې هغه کسان د انتخابولو حق لري چې یوه اندازه پانګه ولري، یعنې یوازې بورژوازي کولای شي استازي وټاکي. د بورژوازي دا ټاکونکي یوازې خپل استازي ټاکي او دا استازي حق لري د مالیاتو له ورکړې څخه ډډه وکړي، چې په دې ډول یو بورژوا حکومت واکمنوي.

دریم دا چې، صنعتي انقلاب په هر ځای کې د بورژوازي په نسبت د پرولتاریا شمیره هم سیوا کړه. په هر اندازه چې بورژوازي بډایه کیده د پرولتاریا شمیره هم ډیریده؛ ځکه چې پرولتاریا یوازې د پانګې په وسیلې په کار ګومارل کیږي او پانګه هم هغه وخت ډیریږي چې پرولتاریا په کار وګومارل شي. د دې نسبت پایله دا ده چې د کارګرانو د شمیرې ډیریدل کټ مټ د پانګې له ډیریدلو سره همغاړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول صنعتي انقلاب، بورژوازي او پرولتاريا په لويو ښارونو کې، چېرې چې د لويو صنايعو بهير په ښه توګه تر سره کيږي، سره راټولوي. دا چې صنعتي انقلاب يو لوی شمير پرګنې په يوې کوچنۍ ټوټه ځمکې سره راټولوي، پرولتاريا ته د پرولتاريا ځواک ښکاره کوي. سربېره پر دې هر څومره چې صنعتي انقلاب بشپړ شي، په هماغې اندازه نوي ماشينونه چې لاسي کار په بېړه له منځه وړي، اختراع کيږي او لوی صنعت په هماغه اندازه د کارګرانو مزد حداقل ته راټيټوي چې د کارګرانو وضع له زغمه وباسي. په دې ډول له يوې خوا ډېريدونکي ناخوښي او له بلې خوا د پرولتاريا د ډېريدونکي ځواک په پايله کې، د دې طبقې په وسيله ټولنيز انقلاب رامنځته کيږي.

**دولسمه پوښتنه: د صنعتي انقلاب وروستی پايلې څه وې؟**

**ځواب:** لوی صنعت د بخار او نورو ماشينونو په جوړولو سره، هغه وسايل چې په لږ لګښت او په لنډ وخت کې د بې کچې صنعتي توليد لپاره اړين وو، جوړ کړل. آزاده سيالي چې د دې لوی صنعت ضروري نتيجه وه، د توليد له آسانتيا سره ډېر ژر پيچلې بڼه ونيوله. زيات شمير پانګوالو صنعت ته مخه کړه چې په ډېر لږ وخت کې د توليد کچه د مصرف له کچې زياته شوه. پايله يې دا وه چې توليد شوي محصولات خرڅ نشی او يو سوداګريز کړکيچ رامنځته شي؛ کارخانې مجبوره شوې چې کارونه بند کړي؛ د کارخانو مالکان ديوالي شول؛ کارګران له ډوډۍ خوړلو ولويدل او ډېره لويه بدمرغي رامنځته شوه. له څه مودې وروسته اضافي محصولات وپلورل شول او کارخانو بيا په توليد پيل وکړ؛ تنخواګانې ډېرې شوې او د سوداګرۍ وضعيت ورو ورو د پخوا په پرتله ښه شو. خو دې وضعيت ډېر دوام ونه موند او بيا هم د مصرف په پرتله ډېر توکي(محصولات) توليد شول او د پخوا په شان يو نوی کړکيچ(بحران) رامنځته شو. په دې ډول د دې پيړۍ (نولسمې پيړۍ ـ ژباړن) له پيل څخه د صنعت وضعيت تل د زياتوالي او د کړکيچ په پړاونو کې نوسان درلود او تقريباً له هر پنځو څخه تر اوو کلونو په منځ کې(٧) يو داسې کړکيچ چې د کارګرانو د بې ساري بدمرغی، د عمومي انقلابي خوځښتونو او د شته وضعيت لپاره د لويو خطرونو سره مل و، رامنځته کيده.

**ديارلسمه پوښتنه: له دې پرله پسې رامنځته کيدونکو کړکيچونو څخه څه نتيجه اخيستل کيږي؟**

**ځواب:** اول دا چې، لوی صنعت که څه هم د خپل پرمختګ په لومړيو دورو کې آزاده سيالي رامنځته کړه، نن يې په خپله د همدې آزادې سيالۍ له امله وده او پرمختګ کړی دی او اوس دا آزاده سيالي او په ټوليزه توګه د افرادو په لاس د صنعتي توليد اداره، د ياد شوي صنعت لپاره د هغې ځنځير بڼه نيولې چې ښايي مات شي او بې له شکه ماتيږي. لوی صنعت تر څو چې په اوسني ډول اداره شي يوازې کولای شي په عمومي بې نظميو سره چې هر اووه کاله وروسته تکراريږي، خپل ځان وژغوري. دا کړکيچونه هر وار د تمدن بنسټونه ګواښي او نه يوازې دا چې پرولتاريا بيوزله کوي، بلکې ډېر شمير بورژوايان هم د ديوالي کيدو خوا ته ليږدوي. د دې نتيجه به دا وي چې يا خو بايد په بشپړه توګه لوی صنعت نابود شي ـ چې مطلقاً يو ناشونی کار دی ـ او يا بايد دې لوی صنعت ته يو نوی ټولنيز سازمان جوړ شي چې په اړانه کې يې صنعتي توليد د هغو کسانو په لاس کې نه وي چې يو له بل سره سيالي کوي، بلکې ټول توليد د ټولنې لخوا د يوې ثابتې نقشې او د عمومي اړتياو له مخې اداره شي.(٨)

دويم دا چې، لوی صنعت او د توليد بې کچه پراختيا، چې د دغې لويې صنايع په واسطه به امکان ومومي، په ټولنه کې به داسې يو وضعيت رامنځته کړي چې په هغه کې به د ژوندانه د ټولو اړينو توکو هغه اندازه توليد شي، چې د ټولنې د هر غړي د لياقت او توان ځواک بشپړ او وکړای شي په آزادانه توګه يې وکاروي. په دې ډول د لوي صنعت هماغه خاصيت چې په نننۍ ټولنه کې يوازې بيوزلي او سوداګريز کړکيچونه رامنځته کوي په يو بل ټولنيز سازمان کې به دا بيوزلي او نيستي زيږونکي نوسانونه له منځه يوسي. په دې ډول په څرګنده توګه دا دوه لاندينی مسئلې ثابتيږي:

١. له همدې اوس نه وروسته د دې ټولو معايبو مسووليت د اوسني ټولنيز سازمان پر غاړه دی چې نور له ټولنيزې وضعې سره اړخ نه لګوي.

٢. د ټولو بدمرغيو د نابودولو اړين وسايل د يو نوي ټولنيز سازمان په وسيله موجود وي.

**څوارلسمه پوښتنه: دا نوی ټولنيز سازمان بايد څه ډول وي؟**

**ځواب:** دا سازمان تر ټولو لومړی د صنعت او د ټولو توليدي رشتو اداره په بشپړه توګه د هغو کسانو له لاسه وباسي چې له يوه بل سره سيالي کوي او ټولنې ته يې سپاري چې د ټولو په ګټه او د عمومي نقشې مطابق او د ټولنې د ټولو غړو لخوا اداره شي. دا سازمان سيالي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځه وړي او د هغې پر ځای د ټولو ګډون (مشارکت) رامنځته کوي. له هغه ځایه چې د افرادو په لاس د صنعت اداره د خصوصي مالکیت مستلزم ګڼل کیږي او سیالي هم د پانګې د مالکانو لخوا د صنعت له ادارې پرته بله مانا نلري، له همدې امله خصوصي مالکیت د صنعت د انفرادي ادارې او سیالۍ څخه نشو جلا کولی. خصوصي مالکیت باید له منځه ولاړ شي او پر ځای یې د تولید له وسایلو څخه عمومي ګټه اخیستنه او د عمومي نظر د توافق مطابق د ټولو محصولاتو ویش یا په لنډه توګه د شتمنۍ د شریکولو اصل رامنځته شي. که وغواړو د دې ټولنیز سازمان، چې د صنایع د پرمختګ له امله رامنځته کیږي، د شکل بشپړ بدلون په لنډه بیان کړو؛ تر ټولو لنډه ځانګړنه یې عبارت ده له: د خصوصي مالکیت الغا ـ له دې کبله کمونیستان دا کار خپله اصلي ادعا او مهمه غوښتنه ګڼي.

**پنځلسمه پوښتنه: آیا له دې مخکې د خصوصي مالکیت الغا ممکنه وه؟**

**ځواب:** نه. د هر ټولنیز سازمان بدلیدل او د مالکیت د اړیکو رنګیدل تل د تولید د نوي ځواک، چې د مالکیت له تیرو اړیکو سره یې اړخ نه لګیده د پیدایښت ضروري نتیجه وه. خصوصي مالکیت په خپله هم په همدې ډول منځته راغلی دی. ځکه چې خصوصي مالکیت تل موجود نه و، بلکې د منځنۍ پیړۍ په وروستیو کې د لاسي صنایعو د رامنځته کیدو، چې د تولید په ډګر کې نوې طریقه وه او د فیوډالي سیستم او صنفي مالکیت په اډانه کې نه ځای کیدو او په خپله د مالکیت له پخوانیو اړیکو څخه رامنځته شوی و، د مالکیت نوی ډول، یعنې خصوصي مالکیت رامنځته شو. خو د لاسي صنایعو او د لویو صنایعو د پرمختګ په لومړي پړاو کې د خصوصي مالکیت او د خصوصي مالکیت پر بنسټ ولاړ ټولنیز سازمان پرته بل هیڅ ډول مالکیت نه و. ځکه چې د تولید کچه باید دومره ډیره نشي چې د عمومي اړتیاو له بسیا پرته، یو اندازه اضافي محصول د ټولنیزې شتمنۍ د ډیروالي او د تولید د نوي ځواک د برابرولو او روزلو لپاره پاتې شي او لازمه ده چې یوه واکمنه طبقه د ټولنې د ټولو تولیدي وسایلو مالکه وي او یوه بیوزله طبقه تر فشار لاندې پاتې شي. د دې طبقو د زیږیدنې څرنګوالی د تولید د پرمختګ له درجې سره تړاو لري.

منځنۍ پیړۍ، چې پر کرنیز اقتصاد ولاړه وه، موږ ته یې ارباب او سرف راوستل؛ د منځنیو پیړیو وروستیو ښارونو صنفي استادکاران، کسبګر او دیاړي مار رامنځته کړل؛ اولسمې پیړۍ د لاسي صنایع په زیږیدو سره د لاسي صنایع(نساجي) کارګران او بالاخره نولسمې پیړۍ د کارخانو لوی مالکان او پرولتاریا رامنځته کړه. ښکاره خبره ده؛ چې تر دې وخته پورې د تولید وسایل هومره بشپړ شوي نه وو چې د ټولو لپاره په کافي اندازه توکي تولید کړي او له بلې خوا خصوصي مالکیت هم د تولیدي ځواکونو لپاره د ځنځیر او قفل په څیر و. خو اوس په لوی صنعت سره پانګه او د تولید ځواک په هغه اندازه ډیر شوی دی چې تر دې مخکې یې ساری نه و لیدل شوی او نن هغه وسایل شته چې وربانديې وکړای شو تولیدي ځواک په لنډ وخت کې ډیر کړو. دویم دا چې دا تولیدي ځواک د یو کم شمیر بورژوایانو په لاس کې متمرکز شوی دی او په ورته وخت کې هره شیبه جوپه جوپه خلک پرولتر کیږي چې ژوند یې د بورژوایانو د پانګې د ډیروالي په نسبت، ورځ تر بلې ستونزمن او خرابیږي. دریم دا چې دا لوی تولیدي ځواک چې په آسانۍ سره د ډیریدو وړتیا لري، هومره د خصوصي مالکیت او د بورژوازي د قدرت له حدودو وتلی دی، چې هره شیبه په خپل زور او فشار سره په ټولنیز نظم کې ګډوډي راوستلای شي. اوس د لومړي ځل لپاره د خصوصي مالکیت الغا نه دا چې ممکنه ده، بلکې ضروري ده.

**شپاړسمه پوښتنه: آیا د خصوصي مالکیت الغا به د سوله ایزو لارو ممکنه وي؟**

**ځواب:** ټول دا هیله لري، چې دا الغا د سوله ایزو لارو څخه تر سره شي او بې له شکه کمونیستان به هغه وروستي کسان وي چې د دې لارې مخه ونیسي. کمونیستان په دې ښه پوهیږي چې په دې لړ کې ټولې هڅې نه یوازې دا چې بې فایده دي، بلکې تاوان هم لري. کمونیستان په ښه توګه دې ته پام لري چې انقلابونه د نیت او لیوالتیا له مخې نه تر سره کیږي، بلکې په هر وخت او هر ځای کې د وضعیت هغه ضروري پایله ده چې په هیڅ توګه د یو ګوند د رهبري او یا د ټولو ټولنیزو طبقاتو له هوډ سره تړاو نلري. کمونیستان ویني چې تقریباً په ټولو متمدنو هیوادونو کې د پرولتاریا د پرمختګ مخه په زور نیول شوې ده او په دې ډول د انقلاب لپاره د هغوی مخالفین هم په جدي توګه فعالیت کوي. که پرولتاریا په دې ډول فشار د انقلاب خوا ته وهځول شي، موږ کمونیستان څرنګه چې نن د دې طبقې له ګټو نه په ژبه دفاع کوو، د انقلاب په ورځ به ترې په عملي توګه دفاع وکړو.

**اولسمه پوښتنه: آیا د خصوصي مالکیت له منځه وړل به په یوې ضربې امکان ولري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځواب:** نه. د دې دلیل په پام کې نیولو سره چې د اوسني تولیدي ځواک په هغه اندازه زیاتول چې د اشتراکي سیستم لپاره لازم ګڼل کیږي په یوې ضربی امکان نلري؛ د پرولتاریا قریب الوقوع انقلاب به هم په ظاهره ننني ټولنیز بدلونونه په ورو ورو تر سره کړي او له دې وروسته، په هغه صورت کې کولای شي خصوصي مالکیت له منځه یوسي، چې د دې عمل لپاره په لازمه کچه د تولید وسایل برابر شوي وي.

**اتلسمه پوښتنه: دغه انقلاب به د تکامل څه ډول بهیر غوره کړي؟**

**ځواب:** دا انقلاب به تر ټولو لومړی د یوه دموکراتیک حکومت سیستم او د هغې په وسیله به ـ په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول ـ د پرولتاریا واکمني رامنځته کړي. په انګلستان کې به دا واکمني چې همدا اوس د ټولنې ډیره برخه یې پرولتاریا جوړوي، په مستقیم ډول وي او په فرانسې او آلمان کې به دا واکمني غیر مستقیمه وي، ځکه چې د ملت ډیره برخه نه یوازې دا چې له پرولتاریا، بلکې له کوچنیو کروندګرو او منځنی طبقې څخه هم جوړه شوې ده او دا ډله نن د پرولتاریا په طبقې کې د شاملیدو په حال کې ده او ورځ تر بلې په ټولو سیاسي ګرایشاتو کې له پرولتاریا نه تابعیت کوي او له همدې امله مجبوره ده چې د پرولتاریا له اهدافو سره یوځای شي. شاید د پرولتاریا د دې غیر مستقیمې واکمنی پیدایښت به د یوې ثانوي مبارزې په بیه چې په قطعي توګه د پرولتاریا په بري تمامه شي، پای ومومي. که د دموکراسی له رامنځته کیدو سره سم هغه مقررې چې خصوصي مالکیت تر مستقیم برید لاندې ونیسي او د پرولتاریا ژوند تامین کړي، پلې نشي دا کار به د پرولتاریا لپاره هیڅ ګټه ونلري. لکه څرنګه چې همدا اوس د شته اړیکو له ضروري نتایجو څخه جوتیږي، یادې شوي بنسټیزه مقررې په دې ډول دي:

۱. د تصاعدي مالیاتو په وسیله د خصوصي مالکیت محدودول؛ پر میراث لوړه مالیه لګول، د غیر مستقیم وراثت (ورور ـ وراره او ...) او د اجباري پورونو له منځه وړل او نور.

۲. د کرنیزو ځمکو، کارخانه لرونکو، د اورګاډي د پټلیو او د بیړی چلوونکو له مالکانو څخه په تدریجي ډول د مالکیت د یوې برخې اخیستل د دولتي صنایع د سیالی په وسیله او یوه برخه یې د خسارت د ورکړې په مقابل کې د آسینیا (۹) په وسیله.

۳. د یاغیانو او له هیواد څخه د ټولو کډوالو د اموالو مصادره کول.

۴. په کارخانو، ملي کروندو او کارځایونو کې د پرولتاریا د کار او دندې منظمول، تر څو په دې عمل سره د کارګرانو تر منځ سیالي له منځه ولاړه شي او کارخانه لرونکي مجبوره شي کوم لوړ مزد چې دولت ټاکلی، کارګرانو ته ورکړي.

۵. د کار د اجبار په وړاندې د ټولو افرادو تساوي، تر هغه وخته چې خصوصي مالکیت په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي. د صنعتي پوځونو جوړول په ځانګړې توګه د کرنې لپاره.

۶. د یوه ملي بانک لخوا په دولتي پانګی او د دولت په وسیله د پورونو او د پیسو د سوداګری د سیستم متمرکز کول او د ټولو بانکونو او بانک لرونکو منحلول.

۷. د کارګرانو د ډیروالي او د ملت په پانګې د ملي کارخانو، کارځایونو، د اورګاډي د پټلیو او بیړیو ډیرول؛ همدا ډول د کښت لپاره د شړو ځمکو برابرول او د کر ځمکو لا رغاونه، تر څو ملت خپله پانګه او کارګران زیات کړي.

۸. د ملت په لګښت په ملي موسساتو کې له هغې شیبې چې ماشومان د مور پالنې ته اړتیا ونلري؛ د ټولو ماشومانو روزنه او ښوونه.

۹. په ملي ځمکو کې د صنعت او کرنې د کارکوونکو په شمول، ټولو دولتي کارکوونکو ته د ګډې هستوګنې په موخه د لویو ودانیو جوړل، داسې ودانی چې د ښاري او کلیوال ژوندانه آسانتیاوې ولري او هیڅ یو یې نیمګړتیا ونلري.

۱۰. د ټولو ناسمه او خرابو جوړو شویو سیمو او کورونو ویجاړول.

۱۱. د قانوني او غیر قانوني ماشومانو لپاره د وراثت د مساوی حقوقو تامینول.

۱۲. د ملت په لاس کې د حمل او نقل ځواکونو متمرکزول.

ښکاره خبره ده چې دا ټولې چارې په یوځلي تر سره کیدای نشي. ولې د یوه پلې کول، بل له ځان سره راولي. وروسته له هغې چې د خصوصي مالکیت په وړاندې لومړنی برید تر سره شي، پرولتاریا به مجبوره وي چې هره شیبه مخې ته قدم کیږدي او ټولې پانګې، کرنه، د حمل و نقل صنعت او سوداګری د دولت په لاس کې متمرکز کړي. د دې مقرراتو موخه همدا ده او هر څومره چې د پرولتاریا د کار له کبله د هیواد تولیدي ځواک زیات شي، په هماغه اندازه به دا تصمیمونه ممکن شي او خپلو متمرکزو پایلو ته به پراختیا ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر کله چې ټوله پانګه، تولید او سوداګري د ملت په لاس کې متمرکزه شي؛ خصوصي مالکیت به په خپله له منځه ولاړ شي، پیسې به بی فایده شي او تولید به په هغه کچه ډیر او خلک به هومره بدلون وموميي چې آن کیدای شي د پخوانیو ټولنو د معاشرتونو آداب هم له منځه ولاړ شي.

**نولسمه پوښتنه: آیا د دې امکان شته چې دا انقلاب یوازې په یوه هیواد کې تر سره شي؟ (۱۰)**

**ځواب:** نه، لوي صنعت د نړۍ ټول ملتونه او په ځانګړي توګه متمدن ملتونه د نړیوالو بازارونو په جوړیدو سره هومره نښلولي دي؛ چې هره پیښه چې په یو ملت کې رامنځته شي، پر بل ملت اغیزه کوي.

له بلې خوا، لویې صنایع په ټولو متمدنو هیوادونو کې ټولنیز پرمختګ تر دې کچې مساوي کړی دی، څرنګه چې په دې ټولو هیوادونو کې بورژوازي او پرولتاریا د ټولنې دوه اصلي طبقې دي او د دې دوو طبقو تر منځ مبارزه، د اوسني مهال پریکنده مبارزه ده. له دې امله کمونیستي انقلاب یوازې یو ملي انقلاب نه، بلکې هغه انقلاب دی چې په ټولو متمدنو هیوادونو، یعنې لږ تر لږه په انګلستان، امریکا، فرانسې او آلمان کې به په یوه وخت تر سره شي. دا انقلاب به په دې هیوادونو کې د بشپړ صنعت، ډیر ثروت او د ډیر تولیدي ځواک له مخې یا به ګړندی او یا به ورو وي. په دې ډول دا انقلاب به په آلمان کې ډیر ورو او ستونزمن او په انګلستان کې به په چټکۍ او آسانۍ سره تر سره شي. دا انقلاب یو نړیوال انقلاب دی، له دې کبله په یو نړیوال ټاټوبی کې به تر سره شي.

**شلمه پوښتنه: د خصوصي مالکیت د بشپړې الغا پایلې به څه وي؟**

**ځواب:** له هغه ځایه، چې د تولید ټول ځواکونه، د حمل و نقل وسایل، راکړه ورکړه او د توکو ویش د خصوصي پانګوالو له لاسه ویستل کیږي او د عمومي نقشې مطابق، چې موجوده وسایل او د ټولنې ټولیزه اړتیاوې د هغې ایجاب کوي، د ټولنې لخوا اداره شي؛ ښایي تر ټولو لومړی هغه بدې پایلې چې په لویو صنایعو پورې تړاو لري، له منځه یووړل شي. کړکیچونه به له منځه ولاړ شي، پراخه تولید چې د اوسنۍ ټولنې لپاره یو اضافي تولید او د بدمرغیو یو اصلي لامل دی، له دې وروسته به کافي نه وي او باید نور هم پراختیا ومومي.

اضافي تولید، د دې پر ځای چې بدمرغي رامنځته کړي، د ټولنې د اړتیاو د ژر رفع کولو سربیره، عمومي اړتیاوی به هم رفع کړي او نوی اړتیاوی او د دې اړتیاو د پوره کولو وسایل به رامنځته کړي. اضافي تولید د نویو پرمختګونو شرط ګڼل کیږي او یاد شوي پرمختګونه به له اضافي تولید پرته ناشوني وي. اضافي تولید به دغه پرمختګونه، پرته له دې چې د تیرو وختونو په شان د ټولنیز نظم د ګډوډولو لامل شي، رامنځته کړي. وروسته له دې چې لویه صنایع د خصوصي مالکیت له قیده آزاده شي په هغه اندازه به پراختیا ومومي، چې نننۍ صنایع به د هغې په وړاندې، لکه څرنګه چې لاسي صنایع د نننۍ صنایع په وړاندې کوچنې ښکاري، بی اهمیته وي. د صنایع دا پراختیا به د عمومي اړتیاو د پوره کولو لپاره په کافي کچه محصولات تولید کړي. په همدې ډول کرنه، چې تر دې وخت پورې د خصوصي مالکیت د فشار او د خورا کوچني ویش له امله د شویو اصلاحاتو او علمي پرمختګونو څخه نه ده برخمنه شوی، په بشپړه توګه به نوی ښه غوره کړي او په کافي کچه به توکي د ټولنې په واک کې کیږدي. په دې ډول به ټولنه وکړای شي په کافي کچه محصولات برابر کړي. د دې لپاره چې د ویش تنظیم په داسې یو ډول تر سره شي چې د ټولو خلکو اړتیاوی پوره شي، د ټولنې ویش به په متضادو طبقاتو اضافي وي. دا ویش نه یوازې چې اضافي، بلکې د نوي ټولنیز نظم سره به د تطبیقولو او زغملو وړ نه وي. د طبقاتو موجودیت د کار د ویش نتیجه ده او د کار اوسنی ویش به بالکل له منځه ولاړ شي، څکه چې لوړې کچې ته د صنعتي او کرنیزو تولیداتو د رسولو لپاره به یوازې صنعتي او میکانیکي وسایل بسنه ونکړي.

د هغو کسانو وړتیا، چې دا وسایل کاروي هم باید په همغې نسبت پرمختللې وي. لکه څرنګه چې د اتلسمې پیړۍ کروندګر او د لاسي صنایعو کارګران وروسته له هغې چې لوی صنعت ته وکاږل شول، په بشپړه توګه یې د خپل ژوند ښه بدله کړه او نوي خلک شول. په همدې ډول «د ټولو په وسیله ټولیزه تولید» او د تولید پرمختګ، چې د هغې پایله ده په بشپړه توګه به نورو کسانو ته اړتیا ولري او دا کسان به رامنځته کړي. د نننۍ خلکو په څیر کسانو باندې، چې هر یو یې د تولید له یوې واحدې برخې سره تړاو لري او د دې رشتې تر اغیزې لاندې دي او د هغې په وسیله استثماریږي؛ یعنې کوم خلک چې د خپلو نورو استعدادونو په تاوان سره یوازې خپل یو طبیعي استعداد بشپړوي او یوازې یوه رشته او یا د کلي تولید له رشتې څخه یوې رشتې سره آشنایي لري، په اشتراکي ډول د تولید اداره کول به ناشونی وي. له دې ډول کسانو څخه آن همدا اوس هم نننۍ صنایع کار اخیستلی نشي. هغه صنایع چې په اشتراکي توګه او د نقشې له مخې د ټولې ټولنې لخوا اداره شي، داسې خلکو ته اړتیا لري چې شخصي استعدادونو یې له هرې خوا پرمختګ کړی وي او د تولید په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول سیستم پوه شي. د کار ویش چې یو کروندګر، بل موچي، دریم کارګر او څلورم د بورس د بیه لرونکو پاڼو پلورنکې یا پیرودنکی جوړوي او اوس له ماشینونو سره یو څه له منځه تللی دی، بالکل به له منځه ولاړ شي. پوهنه او روزنه به هغه وسیله شي چې ځوانان به وکړای شي د هغې په ملتیا په چټکی سره د تولید له ټول میکانیزم سره آشنا شي او هغوی ته به دا وخت ورکړي چې د ټولنې د اړتیا او یا د شخصي لیوالتیا په صورت کې په دوامداره توګه له یوې رشتې څخه بلې رشتې ته خپله دنده بدله کړي. دا پوهنه او روزنه به یو اړخیزه خصوصیات، چې د کار اوسنی ویش یې پر هر چا تپي له منځه یوسي.کومه ټولنه چې په کمونیستي ډول اداره شي، خپلو ټولو وګړو ته دا توان ورکوي چې خپل ذاتي استعدادونه، چې په هرې برخې کې پرمختګ کوي، په ټولو برخو کې وکاروي او په دې کار سره به د بیلابیلو طبقو اړتیا له منځه ولاړه شي.کمونیستي ټولنه له یوې خوا د طبقاتو پاتی کیدل نشي زغملی او له بلې خوا د دې ډول ټولنې رامنځته کیدل په خپله د دې طبقاتي اختلافاتو د منځه وړلو لپاره وسایل برابروي. له دې موضوع څخه دا پایله لاسته راځي چې د ښار او کلي تر منځ تضاد به هم په دې ډول له منځه ولاړ شي. یوازې د اقتصادي دلایلو له امله د بیلابیلو طبقو پر ځای د کرنې او صنعت اداره د ټولنې لخوا د کمونیستي ټولنې له حتمي او ضروري شرایطو څخه ګڼل کیږي. پر کروندو باندې د بزګرانو خپرول او په لویو ښارونو کې د صنعتي کارګرانو د ډلو راغونډول، هغه څه دي چې یوازې د کرنې او صنعت پر نه پرمختیایي پړاو کې د پلي کولو وړ دي او د هر ډول راتلونکي پرمختګ مخه نیسي چې دا مخنیونه اوس په ښه توګه احساسیدی شي.
د ټولنې د ټولو وګړو ګډه همکاري په دې موخه، چې له ټول تولیدي ځواک څخه د نقشې مطابق ګټه واخیستل شي؛ د تولید پرمختګ هغې کچې ته ورسیږي چې د ټولو اړتیا پوره کړي؛ د هغه وضعیت له منځه وړل چې د یوه اړتیا د نورو کسانو په تاوان پوره شي؛ د ټولو طبقاتو او طبقاتي اختلافاتو په بشپړه توګه له منځه وړل؛ د کار د اوسني ویش له منځه وړلو او د دندو د تعویضولو له لارې په صنعتي روزنې سره د هغه ښادیو څخه د ټولو برخمن کیدل چې د ټولو په وسیله برابریږي او د ښار او کلي د یوځای کیدو له لارې د ټولنې د ټولو وګړو د هر اړخیزه استعداد پرمختیا د خصوصي مالکیت د الغا پایلې دي.

**یوویشتمه پوښتنه: کمونیستي ټولنیز نظم به په یوې کورنی څه اغیزه ولري؟**
**ځواب:** دا نظم د دوو جنسو، یعنې د نارینه او ښځې تر منځ اړیکه په بشپړه توګه په یوې خصوصي او شخصي اړیکې بدلوي چې یوازې په دوو کسانو پورې اړه لري او ټولنه په هغه کې د هیڅ ډول لاس وهنې حق نلري. دا کار د کمونیستي نظم په وسیله تر سره کیدای شي، ځکه دا هغه نظم دی چې خصوصي مالکیت له منځه وړي او ماشومان په ګډه پالي او په دې ډول به د کوروداني دوه اوسني اصله، یعنې «له سړي څخه د ښځې» تابعیت او «له مور او پلار څخه د ماشوم» تابعیت؛ چې د خصوصي مالکیت له امله رامنځته شوی دی له منځه ولاړ شي. په دې تشریح سره د ډیرو اخلاقي بډایو ښاغلیو ځواب چې وایي په کمونیستي ټولنه کې ښځه اشتراکي ده، ورکړل شوی دی.
خو په حقیقت کې دا په پانګوالی ټولنه کې ده چې ټولې ښځې په ټوله معنی اشتراکي دي او دا کار د بدلمنی په بڼه په مکمله توګه وجود لري او بدلمني په خپله د خصوصي مالکیت له امله رامنځته شوې او د هغې په الغا سره به له منځه ولاړه شي. دا ښکاره ده چې کمونیستي سازمان په هیڅ توګه بدلمني ته ادامه نه ورکوي، بلکې هغه به په بشپړه توګه له منځه یوسي.

**دوویشتمه پوښتنه: کمونیستي سازمان به له موجودو ملیتونو سره څنګه چلند ولري؟**
**ځواب:** د ملتونو ملي اختلافات او جلاتوب همدا اوس د بورژوازۍ د پرمختیا، د سوداګرۍ د آزادۍ، نړیوالو بازارونو، د صنعتی توکو ورته والي او له هغې سره د ژوندانه په متناسبو شرایطو سره ورځ تر بلې له منځه ځي. د پرولتاریا حکومت به په دې برخه کې زیاته مرسته وکړي. لږ تر لږه د نړۍ د متمدنو هیوادونو ګډ اقدام به د پرولتاریا د آزادۍ لپاره له لومړینو شرطونو څخه وي. په هره اندازه چې د یو انسان زبیښناک د بل انسان په وسیله له منځه ځي، د ملتونو زبیښناک به د بل ملت په وسیله هم له منځه ولاړ شي. د یو بل په وړاندې د ملتونو دښمني به د هر ملت په منځ کې د طبقاتي تضاد په حلولو سره له منځه ولاړه شي.

**درویشتمه پوښتنه: کمونیستي سازمان به له موجودو مذاهبو سره څنګه چلند ولري؟**
**ځواب:** آیا د دې پوهیدل چې د انسان د اقتصادي ژوند د اړیکو له بدلون سره، د هغې ټول اند او عقیده او په لنډه توګه وجدان هم بدلون مومي، ډیر غور ته اړتیا لري؟... کله چې پخوانی نړۍ له منځه تلله، پخوانیو مذهبونو هم د مسیحي مذهب په وړاندې ماته وخوړله. کله چې په اتلسمه پیړۍ کې د مسیح مذهب د پرمختللو افکارو تر اغیزې لاندې راغی؛ فیوډالي ټولنه د هغه وخت له انقلابي بورژوازۍ سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند او مرگ په مبارزې کې ښکیله وه. د وجدان او مذهب له آزادۍ څخه موخه یوازې د وجدان په برخه کې «د آزادې سیالۍ واکمنتیا» وه. کمونیستي انقلاب له پخواني مالکیت سره د اړیکو بشپړ غوڅېدل دي. د حیرانتیا ځای نه دی چې دا انقلاب به په خپل پرمختیایي بهیر کې په بنسټیزه توگه خپلې اړیکي له ټولو پخوانیو عقایدو سره غوڅې کړي.

**څلرویشتمه پوښتنه: د کمونیستانو او سوسیالیستانو تر منځ څه فرق دی؟**

**ځواب:** خوک چې سوسیالیستان شمیرل کیږي، په دریو طبقو ویشل کیږي:

لومړنی طبقه د فیوډالي ټولنې او د پلار شاهۍ له نژدی کړیو څخه جوړیږي چې د لویو صنایعو او نړیوالې سوداگرۍ او د دې دوو له پایلې، یعنې بورژوازۍ په وسیله د نابودۍ خوا ته ځي او ورځ تر بلې نابودیږي. دا طبقه د اوسنۍ ټولنې له نیمگړتیاو څخه نتیجه اخلي او په دې اند ده چې: له هغه ځایه چې فئوډالي او پلارشاهي ټولنې نیمگړتیاوی نلري باید یو ځل بیا دا ټولنه واکمنه شي.

د دې ډلې ټول وړاندیزونه، څه په مستقیم ډول او څه هم په نامستقیم ډول، پر همدې موخې گرځي. دا مرتجع سوسیالیستان سره له دې چې له پرولتاریا سره خواخوږي ښکاره کوي او د پرولتاریا د بدمرغۍ لپاره د مکر اوښکې تویوي، په لاندینو دلایلو به تل د کمونیستانو تر برید لاندې وي:

۱. هغوی د یو ناشوني کار لپاره کوښښ کوي.

۲. کوښښ کوي چې بیا د اشرافو حکومت، د صنفي استادانو او د لاسي صنایعو مالکانو او د هغې پایله، یعنی مستبد شاهي حکومت ـ یا فیوډالان ـ دولتي مامورین ـ پوځیان او روحانیون او یا په بل عبارت داسې یوه ټولنه واکمنه کړي چې په رښتیا هم له اوسنیو نیمگړتیاو پاکه ده خو لږ تر لږه په هماغه کچه نور عیبونه او نیمگړتیاوی لري او په هغې کې آن دا هیله چې د فشار لاندې کارگران د کمونیستي سازمان لخوا خلاصون ومومي، نشته.

۳. د سوسیالیستانو دا طبقه کله چې پرولتاریا انقلابي او کمونیستي شي، له بورژوازۍ سره د پرولتاریا په وړاندې یو ځای کیږي او په دې ډول خپلې اصلي موخې څرگندوي.

د اوسنۍ ټولنې د غړو دویمه طبقه چې د دې ټولنې له ضروري عیبونو څخه په وحشت کې لویدلې ده او د دې ټولنې د پاتې کیدو په اړه اندیښمنه شوې، رامنځته کیږي. دوی کوښښ کوي چې ننۍ ټولنه وساتي او عیبونه یې له منځه یوسي او د دې کار لپاره ځینې خیریه کارونه او ځینې نور یې د رنگینو ټولنیزو اصلاحاتو وړاندیز کوي او د ټولنې د سازمان د اصلاح په پلمه، د دې ټولنې هماغه زوړ بنسټ ساتي. دا بورژوا سوسیالیستان هم باید تل د کمونیستانو تر برید لاندې راشي، ځکه هغوی د کمونیستانو دښمنانو ته خدمت کوي او له هغې ټولنې څخه ملاتړ کوي چې کمونستان یې د ړنگولو هوډ لري.

بالاخره د مشروطه غوښتونکو سوسیالیستانو دریمه طبقه رامنځته کیږي. دا ډله د کمونیستانو له لارې د اتلسمې پوښتنې د یادو شویو موادو د یوې برخې غوښتونکي دي، خو عقیده نلري چې د یادو شویو موادو پلي کیدل یوازې کمونیستي ټولنې ته د ننۍ ټولنې د اوښتولو وسیله ده، بلکې باور لري چې د دې موادو د همغې برخې پلي کول به د اوسنۍ ټولنې د نیمگړتیاو د له منځه وړلو او د بدمرغۍ د ځپلو لپاره بس وي.

دا دموکرات سوسیالیستان په ټولیزه توگه یا هغه پرولتران دي چې لا د خپلې طبقې د خلاصون له شرایطو څخه په کافي اندازه خبر نه دي او یا د کوچنی پانگوالې د طبقې استازي دي او تر هغه وخته چې دموکراسي او د هغې سوسیالیستي پایلې لاسته نه وي راغلې په ډیری مسایلو کې د کمونیستانو هم باوره دي. له دې کبله، کمونیستان کله چې هم پر یو کار باندی لاس پورې کوي له دې دموکراتو سوسیالیستانو سره باید مرسته وکړي او په داسې حالاتو کې اصولاً تر څو چې بورژوازۍ ته یې د خدمت ملا نه وي تړلې او پر کمونیستانو یې برید نه وي کړی، کمونیستان باید له هغوی سره تر وسه گډه سیاست غوره کړي. ښکاره ده چې دا مرسته او مشارکت به د هغوی تر منځ اختلافات له منځه یونیسي.

**پنځه ویشتمه پوښتنه: زموږ د عصر له سیاسي گوندونو سره به کمونیستان څه ډول اړیکې ولري؟**

**ځواب:** دا اړیکې په بیلابیلو هیوادونو کې بیلابیل ډولونه لري. په انگلستان، فرانسې او بلژیک کې چې بورژوازي حکومت کوي، کمونیستان یوازې بیلابیلو دموکراتو گوندونو سره شریکې گټې لري او حقیقت دا دی څومره چې دموکراتان په سوسیالیستي مقرراتو کې چې په خپله د هغې معرف دي؛ د کمونیستانو هدف ته نژدې شي ـ یعنې په هره اندازه چې د پرولتاریا له گټو څخه په ښکاره او پریکنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول دفاع وکړي او په هره اندازه چې پر پرولتاريا ډېره وکړي دا مشترکې ګټې به لا زياتې شي. د ساري په توګه په انګلستان کې د چارټيستانو ډله چې له کارګرانو جوړه شوې ده له کوچنې پانګوالو او يا له دې راديکالو څخه ډېره زياته کمونيستانو ته نژدې ده.

په امريکا کې چې د دموکراسۍ اساسي قانون پلي شوی دی کمونيستان له هغه ګوند سره چې دا اساسي قانون د بورژوازۍ پر ضد وکاروي او له هغې څخه د پرولتاريا په ګټه کار واخلي، يعنې «د کرنې د ملي اصلاح غوښتونکو ګوند» سره به مرسته وکړي.

په سويس کې راديکال ګوند، سره له دې چې لا ډېر مختلط دی، يوازينی ګوند دی چې کمونيستان کولای شي ورسره همکاري وکړي. د دې راديکالو تر منځ د واټلنډي او ژنوی ډلې ټپلې له ټولو پرمختللې دي.

په آلمان کې د بورژوازۍ او د مطلقه سلطنت تر منځ پريکنده مبارزه د شروع کيدو په حال کې ده. له هغه ځايه چې د بورژوازي له واکمنيدو مخکې کمونيستان نشي کولای له دې طبقې سره مبارزه وکړي نو د کمونيستانو په ګټه به وي چې له بورژوازۍ سره مرسته وکړي څو ډېر ژر د واک پر ګدۍ کښيني او کمونيستان وکړای شي هغه ډېر ژر ړنګه کړي.

کمونيستان بايد تل د حکومتونو په مقابل کې د بورژوازۍ له آزادي غوښتونکي ګوند سره مرسته وکړي او په بشپړه توګه بايد په پام کې ولري چې د بورژوازۍ «د ځان په دوکه کولو» کې ښکيل نشي او د هغوی په اغفال کوونکو ژمنو چې د بورژوازي برى به پرولتاريا ته ښې پايلې ولري، باور ونکړي. کمونيستانو ته د بورژوازۍ د بري مهمې ګټې دا دي:

۱. د خبرو اترو د دفاع بيلابيل امتيازونه او د کمونيستي عقايدو د اصولو خپرول او په پايله کې مبارزې ته د آماده او پياوړی طبقې په توګه د پرولتاريا متحدول کمونيستانو ته آسانوي.

۲. دا ډاډ پيدا کول چې د مطلقه حکومت د ړنګيدو په ورځ به د بورژوايانو او پرولترانو مبارزه پيل کيږي. له دې ورځې وروسته به د کمونيستانو ګوندي سياست هماغه سياست وي چې اوس په بورژوازي هيوادونو کې واکمن دی.

پايليك:

۱. د کمونيزم ټول پرمختګ له تخيلي پړاو څخه تر علمي پړاو پورې د کمونيزم د کلمې په دې ساده تعريف کې څرګند شوی دی. اوس نور کمونيزم دا نه دی چې د نوي ټولنيز تشکيلات لپاره يو نوی سيستم اختراع کړي چې ټول نيکمرغه کړي، بلکې ننني کمونيزم د پرولتاريا طبقې د خلاصون او د دې خلاصون شرايط دي، يعنې «طبقاتي جګړه» ده.

۲. په هر ځای کې چې انګلس د پانګوالۍ لومړی پړاو تشريح کوي، د پانګوالي آزاده سيالي په پام کې لري. البته د انحصاري پانګوالۍ پرمختګ (د کارتلونو، سنديکاګانو، تراستونو او د مالي پانګو واکمني او...) د آزادې سيالی پر غاړې اوسار ترلي دي.

۳. په ۱۸۶۲ کال کې بردګی د امريکا په متحدو ايالتونو کې ملغی شوه او پر سويلي هيوادونو د شمالي هيوادونو له بري وروسته، په سويلي هيوادونو کې هم بردګی ملغی شوه.

۴. په روسيه کې د رعايا د ملکيت لرلو موضوع په ۱۸۶۱ کې ملغی شوه.

۵. سرف هغه رعايا ته ويل کيدل چې په ځمکې پورې ترلي وو او له ځمکې سره يو ځای پلورل کيدل او اخيستل کيدل او له دې امله په حقيقت کې د ارباب ملکيت و.

۶. د دې پوښتنې ځواب د انګلس په يادداښتونو کې ورکړل شوی نه دی ـ د ځواب ځای تش و ـ د دې موضوع په اړه دا ځواب د مارکس او انګلس د ليکنو په پام کې نيولو سره بشپړ شوی دی.

۷. په اروپا کې په ۱۹ پيړۍ کې څو کړکيچونه رامنځته شول: ۱۸۱۵ ـ ۱۸۲۵ ـ ۱۸۳۶ ـ ۱۸۵۷ ـ ۱۸۷۳ ـ ۱۸۷۷ ـ ۱۸۸۲ ـ ۱۸۹۱ ـ ۱۸۹۵ ـ ۱۹۰۰

۸. سوسياليزم د ټولنيزې نقشې مطابق اقتصاد دی چې «پر توليدي وسايلو د عمومي مالکيت» پر بنسټ د عمومي اړتياو له مخې يو منظم اقتصاد رامنځته کوي.

۹. اسيګنيت، هغه بانک نوټ دی چې ملي ملکيتونه يې پشتوانه وي.

۱۰. ستالين د شوروی جمهوريتونو د اتحاد د کمونيست ګوند په پنځلسم عمومي کنفرانس کې د خپلو خبرو پر مهال د انګلس دا پوښتنه او ځواب ولوستل او داسې توضيح يې ورکړه: په تيره دوره کې يعنې له انحصار مخکې پانګوالۍ په دوره کې يا له امپرياليزم څخه مخکې دوره کې، هغه وخت چې ځمکه د څو پانګوالو تر منځ ويشل شوی نه وه، کله چې د ويشل شويو سيمو بيا جابرانه ويشل لا د پانګوالو لپاره حياتی مسئله نه وه، کله چې د هيوادونو د اقتصادي پرمختګ د کچې توپير په دې واټن سره راڅرګند شوی نه و او نشو کولای چې راڅرګند شي او همدا ډول تر هغې چې د پانګوالۍ تضادونه د پرمختيا هغې کچې ته رسيدلي نه وو چې پرمختللې پانګوالي په مړه کيدونکي پانګوالي واړوي او د سوسياليزم برى په يو واحد هيواد کې شونی کړي، البته چې د انګلس فرمول بې له شکه سم دی.

خو اوس، يعنې د امپرياليزم د پرمختيا په دوره کې چې په هغه کې د پانګوالو هيوادونو د پرمختيا د کچې توپير په خپله د امپرياليستي پرمختګ د قطعي ځواک يو عنصر ګڼل کيږي؛ اوس چې د پانګوالو تر منځ کيدونکو جګړو، د امپرياليزم جبهه کمزوره کړی ده او په دې جبهې کې درز اچول او په واحد هيواد کې انقلاب شوني کوي؛ اوس چې د لنين «د پرمختيا د اختلاف» په اړه تيوري په يوه واحد هيواد کې د سوسياليزم د بري د تيوري بنسټ ګرځيدلی؛ نور نو د انګلس زوړ فرمول سم نه دی. د دې شرايطو تر لاندې لازمي ده يو نوی فرمول چې په يوه واحد هيواد کې د سوسياليزم له بري غبرېږي د زاړه فرمول ځای ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیند
خپرندویه

۱۳۸۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**